بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

(۴۶) ګڼه کب ۱۴۰۳:شماره (۴۶) حوت ۱۴۰۳:صفحه اول:لومړی مخ



اونیزه راستنیدنه
عودت هفته نامه

د دې لپاره چې علماءُ حق ووايي او د هیڅ ډول تراغیز لاندې رانه شي، نو د مدرسې او منبرونه باید آزاد او خپلواک پاتې شي .
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د جامعه الایمان مدرسې د دستار بندۍ په مراسمو کې ګډون او وینا وکړه

د پیل په ناسته کې د پنجشیر مخورو او علما کرامو له ولسونو سره د اسلامي امارت له لوري د همکاریو او د دوی د غږ اورېدو له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې په پنجشیر کې د اسلامي امارت له بریا وروسته ګڼ شمېر ولسي شخړې او دوښمنۍ له منځه تللې دي.

د دغو علمای کرامو او مخورو په وینا ، چې له اسلامي نظام سره مخالفت او نیوکې د پنجشیر د ولس د ارادې ښکارندويي نه کوي او په هېواد کې د جګړې پای ته رسیدل او اسلامي نظام د ولس لویه هیله وه.

راغلو مخورو او علماوو همدارنګه یو لړ ستونزې د حل په موخه له محترم وزیر سره شریکې کړې.

دغه راز د بغلان علماوو په یاد ولایت کې د حکومت او ولس پر اړیکو خبرې وکړې او له اسلامي نظام سره یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.

محترم مولوي عبدالکبیر د پنجشیر او بغلان علمای کرامو او قومي مخورو ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، چې په هېواد کې د اشغال له پای ته رسیدو وروسته جګړه او تاوتریخوالی د توجیه وړ نه دی او اسلامي نظام هڅه کوي ټول افغانستان له نړۍ سره سیال کړي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، چې قومي مخور او علما له حکومت سره د نظام په پیاوړتیا کې رغنده ونډه لوبولی شي او اسلامي امارت د دغوی هڅو ته د قدر په سترګو ګوري.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر یادونه وکړه، چې اسلامي امارت له ممکنو لارو ولس ته د خدمت او اسانتیاوو برابرولو هڅې کوي.




## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان لپاره د چین له سفیر ژاو شینګ سره وکتل.



په دې ناسته کې ښاغلي سفیر د چین او افغانستان د تېرو څو لسیزو سیاسي او ډیپلوماتیکي اړیکې مهمې وبللې او زیاته یې کړه، چې بیجنګ چمتو دی له اسلامي امارت سره د افغانستان د اقتصادي ودې او د پانګونې په برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

ښاغلي شینګ زیاته کړه، چې د چین حکومت افغان کډوالو ته د ښارګوټو د آبادولو په برخه کې مرستې ته چمتو دی او پلان لري چې په افغانستان کې یو شمېر کورونه کډوالو ته ورغوي.

د ناستې پر دوام ژاو شینګ په افغانستان کې اقتصادي وده او فرصتونه د پام وړ وبلل او په وینا یې چین به له افغانانو سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

همدارنګه محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د چین سفیر ته ښه راغلاست ووایه، او زیاته یې کړه چې له ګاونډیو هېوادونو څخه په جبري توګه د افغان کډوالو را ایستل په کور دننه د مرستو پر رسوني اغېز کړی دی.

هغه په بېلابېلو برخو کې د چین هېواد د مرستو ستاینه وکړه او په وینا یې چې اسلامي امارت د افغان کډوالو لپاره د استوګنیزو ښار ګوټو د رغولو پلان تر لاس لاندې لري او په دې برخه کې یې د مرستندویو بنسټونو د همکارۍ د ارتیا یادونه وکړه.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر د چین سفیر ته ډاډ ورکړ چې شوې مرستې به په شفاف ډول ارمنو ته رسیږي .

## هیچ کارمند نباید در وقت نماز، در دفاتر خویش باشد



نکات فوق را محترم شیخ کلیم الرحمن فانی، معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، پس از ادای نماز ظهر، برای کارمندان این وزارت بیان داشت.

محترم فانی بر اشتراک کارمندان در دروس روزانه و پابندی بر فریضه الهی تاکید نموده گفت: هیچ از یک کارمندان این وزارت نباید در وقت ادای نماز در دفاتر خویش بمانند.

وی در جریان سخنرانی اش از کارکرد مرحوم انجنیر عبدالکبیر طلایی، رییس قبلی ریاست تکنالوژی و معلوماتی این وزارت نیز یاد آوری نموده برای مرحومی آروزی بهشت برین و بر بازمانده گانش صبر جمیل استدعا نمود.

معین مالی واداری وزارت برشفافیت، خدمت صادقانه، برخورد نیک واخلاق نیکو نیز به کارمندان سفارش نمود.

## د سلګونو حج غوښتونکو مهاجرینو پچه اچونه ترسره شوه



په مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت کې ایران، پاکستان او نورو لویدیځو هېوادونو کې د مېشتو ۵۰۰ تنو مهاجرینو چې د حج د فریضې د ترسره کولو لپاره یې نوملیکنه کړې وه، پچه اچونه ترسره شوه.

د پچې اچونې پروګرام د وزارت د غونډو په تالار کې د مهاجرینو چارو وزارت د مالي او اداري او مسلکي مرستیالانو،

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

(٤٦) گڼه کب ١٤٠٣:شماره (٤٦) حوت ١٤٠٣:صفحه دوم:دویم مخ



اونیزه راستنېدنه عودت هفته نامه

## د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د نورستان ولایت له مشایخو او علماوو سره وکتل

مرکزي رییسانو او د چارو عمومي اداري او د ارشاد او حج و اقافو وزارت د استازو په شتون کې ترسره شو.

د وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني وویل: خوښ یم، چې نن د یو داسې لوی برکتي پروگرام گډونوال یو، چې پکې د حج د فریضې د ترسره کولو د نیت لرونکو مهاجرینو پچه اچونه ترسره کېږي.

ښاغلي فاني زیاته کړه: حج د الله تعالی یو بېساری عبادت او تر ټولو غوره راټولېدنه ده.

حج لویه فریضه او د الله تعالی سپېڅلی امر دی، چې بې شمېره برکتونه او د انسان د ژوند په جوړولو کې مهم او برلاسی نقش لري.

د وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه:

حج ته تلل نیکمرغي ده. د الله تعالی شکر کاږو، چې موږ ته یې دا فرصت راکړ، چې د مظلومو مهاجرینو لپاره د حج د فریضې د ترسره کولو پچه اچونه ترسره کړو.

ښاغلي راشد وویل: د اسلامي امارت په راتگ سره دا زمینه برابره شوه او سلگونه تنه مهاجر وروڼه د حج لپاره بیت الله شریف ته لاړل او الله دې موږ ته توفیق راکړي چې مهاجرینو ته په اخلاص او رښتینولۍ لا نور خدمتونه هم وکړو.

د اتشو د همغږۍ رییس مولوي احمدالله احمدي هم د موضوع په اړه خبرې وکړې. د پروگرام گډونوالو ته یې د حاجیانو د برخې په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل:

له ٦ زره حج غوښتونکو مهاجرینو څخه نن د ٥٠٠ تنو پچه اچونه کېږي، چې په ایران، پاکستان، اروپایي او امریکا هېوادونو کې مېشت دي.

ویل کېږي چې ثبت شویو کسانو څخه ٢٢١ په ایران، ٢٥٠ په پاکستان او ٢٩ تنه په نورو لویدیځو هېوادونو کې مېشت له پچې اچونې وروسته انتخاب او د خپلو اسنادو د چارو لپاره به د حج او اوقافو وزارت ته ور وپېژندل شي.

## کشوری که دانشمند و نیروی جوان کاری نداشته باشد به عقب خواهد ماند



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در نشستی هماهنگی که با اشتراک شماری از نماینده های وزارت خانه ها در معینیت مسلکی وزارت برگزارشده بود گفت: کشوری که دانشمند و نیروی جوان کاری نداشته باشد به عقب خواهد ماند.

این نشست به هدف هماهنگی درجلب کادرهای مسلکی مهاجرین افغان که در کشورهای همسایه بسر میبرند برگزارشده بود.

معین مسلکی وزارت افزود: کوشش میکنیم تا کادر های مسلکی مهاجر که در بیرون از کشور هستند آنها را تشویق به برگشت نموده تا برای میهن و ملت خویش خدمت نموده و از دانش آنان بهره خوب صورت گیرد و کشور ما به سوی آبادی به پیش رود.

آقای راشد در ادامه گفت: امارت اسلامی نیز در صدد جلب کادر های مسلکی بوده تا آنانیکه به کشور برگشت مینمایند نظر به دانش و تخصص آنان صاحب شغل در ادارات شوند.

حاجی اصل خان آمر تشویق کادر های مسلکی وزارت امور مهاجرین گفت: مسوولیت این وزارت است تا زمینه را برای آنعده کادرهای مسلکی افغان که در خارج از کشور هستند مهیا سازد تا برگشت نموده و از تخصص و دانش آنان ملت مستفید گردند.

سپس نماینده های وزارت خانه های شامل در این نشست، اقدام چنین کاری را نیک دانسته افزودند: کادر های مسلکی مهاجر سرمایه ملی بوده و همیشه باهم کار خواهیم نمود تا زمینه بهتر برگشت آنان مساعد و از دانش آنان استفاده اعظمی صورت گیرد.

## د همکارۍ دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول



په مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت کې له هاجر او افغان تعلیمي او خیریه موسسو سره د یو میلیون ٥ زره او ٨٦٠ امریکایي ډالرو په ارزښت د همکارۍ دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د دې هوکړه لیکونو پر بنسټ به دغه موسسې پورتنۍ پیسې په کابل او پکتیا ولایتونو کې د کور، جومات او تفریحي پارک په جوړولو او د کار په بدل کې د پیسو وېش په برخو کې ولگوي، چې ٢ زره او ٣٠٥ راستانه شوي او کوربه ټولنه به ترې گټه واخلي.

دغه هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد او د پورته موسسو د استازو له لوري لاسلیک شول.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با مسوولان کلستر کمیشنری عالی ملل سازمان متحد و سازمان بین المللی مهاجرت دیدار نمود



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با خانم ایرنی موتف هماهنگ کننده کلستر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و خانم سوسن سات معاون هماهنگ کننده کلستر سازمان بین المللی مهاجرت، در دفتر کارش دیدار نمود.

در این نشست در مورد شریک سازی پلان کلستر مطابق به نیازمندی های بشری، ارایه کمک های زمستانی، ایجاد کمیته مشترک مبنی بر حل مشکل در اجرای تفاهم نامه های نهاد های همکار با وزارت امور مهاجرین، هماهنگی در ترتیب پلان های سالانه در بخش کلستر و سرپناه و تجزیه و تحلیل نیازمندی ها بحث شد.

معین مسلکی وزارت افزود: مهاجرین برگشت کننده در کشور نیازمند سرپناه و سایر کمک های بشری هستند نهاد های همکار در بخش مهاجرین باید مرتبط به حوزه کاری شان بوده و موسسات همکار مطابق به اصول امارت اسلامی و وزارت امور مهاجرین کمک های شان را برای مهاجرین عرضه نمایند.

آقای راشد خواهان شریک سازی پلان های آینده نهاد های متذکره شده تا هماهنگی بهتردر تطبیق آن صورت گیرد

خانم سوسن سات با ارایه معلومات از کمک ها، ضروریات در بخش های اولیه را نیاز مبرم مهاجرین دانسته افزود: با هماهنگ کردن پلان ها در سال روان میلادی در نظر داریم تا با تشریک مساعی موسسات همکار در بخش های ساخت سرپناه، کلستر و کمک های زمستانی در تفاهم با یک دیگر به اهداف مشترک نایل آیم.

خانم ایرنی موتف از همکاری و هماهنگی مقامات رهبری وزارت امور مهاجرین قدر دانی نموده واز حل و رسیده گی به مشکلات در بخش کاری این وزارت با نهاد های همکار ملی و بین المللی در تطبیق پلان ها در آینده به معین مسلکی وزارت اطمینان داد.

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۶ ګڼه کب۱۴۰۳:شماره (۴۶) حوت۱۴۰۳:صفحه سوم :دریم مخ

اونیزه هفته نامه
عودت
راستنیدنه



به صد ها خانواده مهاجر در کشور ایران، در ماه گذشته زمینه برگشت داوطلبانه مساعد شده است

## به صد ها خانواده مهاجر در کشور ایران، در ماه گذشته زمینه برگشت داوطلبانه مساعد شده است

به اساس گزارش اتشه های امور مهاجرین مقیم شهر های تهران و زاهدان کشور ایران، طی یک ماه گذشته (دلو) به ۸۵۸ خانواده شامل ۲ هزار و ٦۴۳ تن مهاجر نامه خروجی در مراکز عودت در کشور میزبان جهت ارایه سهولت در برگشت به کشور مساعد شده است.

برای ۱۰ تن جهت انتقال جنازه های اقارب شان به کشور همکاری صورت گرفته، ۵۲۱ بار معرفی نامه به ادارات مختلف کشور میزبان و نهاد های بین المللی همکار جهت حل مشکلات مهاجرین در بخش های صحی،ارایه کمک های درمانی و عزیمت به کشور صورت گرفته است.

همچنان طی همین مدت مسوولین دفتر اتشه با مقامات بخش مهاجرین کشور میزبان بخاطر رسیده گی به مشکلات مهاجرین در بخش های مختلف دیدار های نیز داشتند.

## د کابل په مهاجرینو چارو ریاست کې د همغږۍ ناسته وشوه



د کابل ولایت په مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست کې له همکارو موسسو سره د غوره همغږۍ د رامنځته کېدو په موخه د دغه ریاست رییس عبدالرحمن حبیب زي په مشرۍ د ملي او نړیوالو بنسټونو د استازو په شتون کې ناسته وشوه.

د مهاجرینو چارو رییس د راستنېدونکو او بېځایه شویو د ستونزو په اړه چې له دغه ریاست سره ثبتېږي معلومات وړاندې کړل او د موسسو له لوري یې د مستحقینو د دقیقې سروې غوښتنه وکړه.

هغه د هوکړه لیکونو پر پلي کولو او له مهاجرینو چارو ریاست سره په همغږۍ د همکارو بنسټونو د چارو پر ترسره کولو ټینګار وکړ.

د اقتصاد وزارت سلاکار لعل محمد ولي زاده د موسسو د پروژو له پیل تر پای پورې د پېژندنې او کاري بهیر په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې ټولې موسسې دي له اړوند سکتور سره په همغږۍ کړنې ترسره کړي.

د موسسو او سکتورونو استازو د بېلابېلو مسایلو په اړه خبرې وکړې او ناسته پای ته ورسېده.

## در ریاست امور مهاجرین ولایت بغلان نشست هماهنگی کمیته انتقال زمین دایر گردید



نشست هماهنگی کمیته انتقال زمین با حضور اعضای کمیته یاد شده در ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بغلان، برگزارشد.

نشست یاد شده بمنظور تحقق حکم عالیقدر امیرالمومنین زعیم امارت اسلامی، پیرامون پروسه انتقال زمین های امارتی که شامل ۸ هزار جریب زمین در ولسوالی های بغلان مرکزی و دشت خواجه الوان ولسوالی دند غوری میباشد برگزار که بعد از بحث و تبادل نظر تصامیم لازم اتخاذ شد.

## په تهران کې د کډوالو اتشه د ایران حکومت بهرنیو وګړو په برخه کې له مرستیال او سلاکار سره لیدلي دي

د ایران تهران ښار کې د افغان کډوالو اتشې د راپور له مخې، د کډوالو چارو اتشه عبدالباسط امامي او په تهران کې د اسلامي امارت کونسلي چارو مسوول انور غفاري د ایران اسلامي جمهوریت بهرنیو وګړو په برخه کې مرستیال او سلاکار ښاغلو سید تقي قایمي او دوکتور بیژن سره لیدلي دي.

په دې لیدنه کې د کورنیو پاسپورټونو د تمدید، د سرشمېرنو پاڼو، د غوښتنلیک کارتونو او د افغان کډوالو اړوند نورو ستونزو په اړه خبرې او هر اخیز بحثونه وشول.

## لوګر کې د ځمکې وېش کمېټې ناسته ترسره شوه

په لوګر ولایت کې د کډوالو لپاره د ځمکې وېش کمېټې ناسته د دې ولایت د ښار جوړونې رییس په مشرۍ او د کمېټې د غړیو په ګډون د کډوالو چارو په ریاست کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ځمکې وېش د فورم، د دې پروسې پر څارنې او د بېرته راستنېدونکو ستونزو د حل لپاره بحث او څرګندونې وشوې.

په پای کې پرېکړه وشوه چې مستحق کډوال باید د تابعیت د تذکرې د طرزالعمل پر اساس ځمکه ترلاسه کړي او د لوګر ولایت د کډوالو چارو آمریت دې د هر بېرته راستنېدونکي لپاره د سرپناه فورم یا د ځمکې نومره ترتیب او چمتو کړي.

## ۳۵ تن در ولایت بلخ، از آموزش های حرفوی فارغ شدند



۳۵ تن برگشت کننده گان و بیجاشده گان در ولایت بلخ، ازآموزش های فنی و حرفوی فارغ شدند

در محفلی که به همین مناسبت در آن ولایت برگزارشده بود، مولوی اسدالله وفا رییس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بلخ گفت: افراد متذکره درهماهنگی این ریاست قبلاً معرفی شده بودند و به مدت ۴ ماه دربخش های ترمیم موبایل و کیک پزی آموزش های فنی را با کمک موسسه انکشافی افغان فرا گرفته بودند.

آقای وفا از موسسات همکار دیگر نیز خواهان همکاری در بخش اشتغال زایی برای بیجاشده گان و برگشت کننده گان در بلخ شد.

نماینده موسسه انکشافی افغان نیز صحبت نموده گفت: این نهاد همواره تلاش می کند تا در مواقع اضطراری کمک جمع آوری و به موقع به دست شهروندان برساند و مساعدت های این نهاد به طور منظم و با نظارت مقامات امارت اسلامی همچنان ادامه خواهد داشت.